ترڅو ستاسي ایمیل د ټویټر لپاره تائید شي او له دی ځایه خپل ټویټر ته لاړشي ؟




د یادولو وړ یی بولم که چیرته ستاسي د ټویټر د اوکاونټ د تائید لپاره کوم ایمیل د ټویټروییپانی له لوری په دننه دننه د 24 ساعتونوکي در ونه لیږل شو نو لمړی مو د ایمیل Inbox او بیا Spamچک کړی په هغه صورت کي چي بیا هم تاسي ته کوم تائیدوونکي ایمیل نه وه درلیږل شوی نو بیا تاسي کولای شئ چي د بیا ځلی کوښښ یا Try again باندي کلیک وکړئ ترڅو یو تائیدوونکي ایمیل در واستول شي ستاسي ایمیل ته ترڅو تاسي له هغه درلیږل شوی ایمیل د لینک د لاری وکولای شئ خپل ایمیل تائید کړی .په پورته شکل کي تاسي د ټویټر له لوری د استول شوی ایمیل لینک ګوری چي زما ایمیل ته رالیږل شوی دی ؟




نو کله چې ستاسي ایمیل ادرس د تویټر د ټیم له لوری confirm شو له دی ورسته تاسې په کلی ډول د تویټر له ټولو حقوقو ځیني کار اخیستلای شي ؟

نوټ : که چیری تاسي خپل ایمیل ادرس غلط ورکړی وي نو تاسي کولای شئ د Change to different address باندې یاهم په Update email address باندې په کلیک کولو سره خپل ایمیل ادرس بدل کړی کوم چې تاسي د تویټر د اکاونټ د جوړولو لپاره ورکړی دی هغه ایمیل ادرس .

بنه اوس نو تاسي په تویټر کې د یو اکاونټ لرونکي یاست او کولای شئ چې خپل اکاونټ ته د داخلیدو لپاره د تویټر ویبپاڼي ته ولاړشي twitter.com او د Sign in له لاری خپل یوزرنوم او پاسورډ ولیکي او په Sign in کلیک وکړئ او ایمیل د تویټر ته مو داخل شي .

خومخکي له دی چې خپل اکاونټ ته داخل شي د Sign in په باندېنی برخه کې د Remember me ځیني مارک لیری کړی دا په هغه صورت کې چې تاسي د نورو خلکو کمپیوټر او یا هم عمومی کمپیوټرونو څخه استفاده کوی هغه ددی لپاره مارک لیری کړی چې ستاسي یوزرنوم او پاسورډ نوموړی کمپیوټر له ځانه سره په حافظه کې ذخیره نه کړی او ونه ساتی؟






Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

علاوه له دی اوس تاسي ډیر په راحته او اسانه کولای شئ لکه څنګه چې مو په تیر درس کې وویل د ټویټر له لاری ټویټ یا پیغام وکړئ او د ټویټر پر پاڼي یی خپل پیغام خپور کړی مګر زما په اند اوس مهال د ټویټ کولو لپاره وخت شته دی .

هوکي مخکي له دی چې تاسي په ټویټ کولو شروع وکړئ لمړی مو خپل پروفایل ته سرښکاره کړی او له پروفایل څخه مو په لنډ ډول لیدنه وکړئ او که مو په پروفایل کې نیمګړتیاوی وینی لازمی سمونی پکې وکړئ له هغه وروسته لږ صبر وکړئ ترڅو د ټویټ کولو لپاره زمینه مساعده شي او تاسي وکولای شئ خپل نظرونه اطلاعات او افکار د ټویټر له لاری د نورو سره شریکه کړی .

- ښه اوس راځی چې د ټویټر په اصلی پاڼي باندې په مفصله توکه خبری وکړو او له د پاڼي څخه عمومی کره کتنه وکړو؟

مونږ په تیر درس کې یواځی په ټویټر کې د اکاونټ جوړول زده کړل اوس په دی ځای کې د ټویټر په اصلی پاڼي هم یوه کره کتنه کوو چې په دی برخه کې د پروفایل سمونه د پروفایل تکمیلول او په همدارنګه په پروفایل کې لازمی سمونی او تغیرات راولو ؟

کله چې مو اوکاونټ ته داخل شي نو لمړی به د باندې صفحی سره مخ شي چې په ټولیز ډول کولای شو دغه دټویټر کور پاڼه په دریو (3) برخو وویشو او په راتلوونکې کې دغه هره برخه په مکمله توګه تر بحث باندې ونیسو لمړی باندې پاڼي ته په پوره دقت سره وګورئ ؟




1)    لمړی برخه دټویټر دکور پاڼي :

هغه برخه دی کوم ته چي تول بار  Toolbar  وايي په ټويټر کي دغه برخه زمونږ په اختيار کي دی او کوم خاص فرق نلری  چي تاسي پخپل پروفايل کي یاست او که یا هم تاسي یو له هغه کسانو څیني یاست کوم چي د ټويټرکارکوونکي  دی یا د ټويټر د کارکوونکو د ډلی څیني دی اویا هم که تاسي د ټويټر پر کور پاڼي یا هوم پیچ کي یی ددی برخی ځای په ټويټر کي د ټولو لپاره ثابته دی او تغیر نکوی او دغه ځای د څو نورو آپشنونو لرونکي  دی چي هر یو یی ځان ته ځانګړی وظایف او کړني لری چي په باندي ډول له دوی څیني یادونه کوو.

- د ټويټر نښه یا لوګو
- لټون یا Search
- کورپاڼه یا  Home
- پروفايل Profile
- پيغامونه Messages
- څوک تعقيب کړم Who to follow
- نوی ټويټ کول یاپيغام کول New tweet
- کارن نوم یا username

اوس به پورته ذکر شوی آپشنونه یو په یو د څیړنی او بحث باندې ونیسو؟




- ✓ د ټویټر نښه یا لوګو :د ټویټر په لوګو یا نښی باندې په کلیک کولو سره تاسې کولای شئ د ټویټر کورپاڼې ته لاړ شي چې دغه لوګو یا نښه د پاڼې په کې ڼ لوری پورته برخه کې ځای لری اویا هم تاسې کولای شئ چې د twitter.com په لیکولو په ادرس بار کې او وروسته له انتر څخه د ټویټر کور پاڼې ته ولاړشي .
- ✓ لټون یا Search : په دی ځای کې تاسې کولای شئ چې هر هغه موضوع یا معلومات چې تاسې غواړی هغه ته لاس رسی وکړئ د ټویټر په پاڼې باندې هغه په Search کې ولیکې د انتر وهلو وروسته به تاسې هغه مطلب ته ورسیږی مهمه خو هلته دی کله چې تاسې د کومی موضوع او مطلب په اړه د نورو خلکو نظرونه او افکار غواړی وګورئ چې د نوموړی موضوع په اړه دوی کومی نظریې ورکړی دی او ترکومه حده د دوی نظری او افکار ستاسې درد ته دوا کې دای شي او تاسې پر خپل مطلب ته رسیدلی شي .

  هوکې مګر فکر مو وي کومی نتیجی چې وروسته د Search څخه تاسې ته د ټویټر په پاڼې ښودل کیږي هغه یواځی او یواځی د هغه خلکو ټویټونه او پیغامونه دی کوم چې ددی خلکو پروفایل عمومی ښه لری .
- ✓ کور پاڼه Home: د تیر درس په څیر دی کوم چې مو د ټویټر په لوګو کې وویل .
- ✓ پروفایل :کله چې تاسې په پروفایل باندې کلیک وکړئ تاسې خپل پروفایل ته ځی چې په هغه کې تاسې ته د ستاسې ټول لیږلی شوی ټویټونه یا پیغامونه ، د ټویټونو تعداد او همدارنګه د هغه کسانو تعداد درښایې کوم چې تاسې یې په ټویټر کې تعقیبوی او یا هم هغوی تاسې تعقیبوی او داسی نور...؟ چې په راتلوونکې درس به د پروفایل په جزیاتو باندې په مفصله توګه خبری وکړو.
- ✓ پیغامونه Messages :پواسطه تاسې کولای شئ ټول هغه شخصی او خصوصی پیغامونه چې تاسې ته د ټویټر د اکاونټ لرونکو کسانو در لیږلی دی وګورئ او یا هم هغه ټول پیغامونه کوم چې تاسې او ستاسې د تعقیبوونکې ډلی له لوری تر سره شوی وي ویی لولی او ویی ګوری.
- ✓ څوک وڅارم Who to follow :د ټویټر له لوری تاسې ته د مختلفو خلکو وړاندیز کیږي ترڅو تاسې هغوی او د هغوی کړني نظریات او افکاری تعقیب کړی .
- ✓ نوی پیغام New tweet : د who to follow تر څنګه یوه کوچنی آبی رنګه مستطیل وینی چې په منځ کې یو سپین ډوله دښکو قلم هم لیدل کیږي که چېرته تاسې د موس کرسر ورته یوسی او پری د موس کرسر ودروی نو یو کوچنی مستطیل به خلاصه شي په کوم کې چې د New tweet کلیمه لیکل شوی دی ددی کمانډ پواسطه تاسې کولای شئ چې نوی پیغام د ټویټر په پاڼې باندې خپور کړی .




✓ د کارن نوم يا username :هغه ستاسي د ټويټر نوم دی کوم چې تاسي د ټويټر د اوکاونټ د جوړولو په وخت کي د ځان لپاره ټاکلی دی .

2)دوهمه برخه ټويټر دکورپاڼي :

د پاڼي دغه برخه هم د دوو حصو لروونکي دی .

- د tweet برخه کوم چې موپه تير درس کي ورته اشاره وکړه .
- او بله برخه يی د باندې پنځو آپشنونو لروونکي دی کوم چې ټول د تغير وړ دی او تغيرات پکي راوستلی شوی .

➢ Timeline
➢ Username
➢ Activity
➢ Search
➢ Lists

د پورته پنځو ساده اپشنونو پواسطه تاسي کولای شئ خپل ټويټر پاڼي کي لازمی تغيرات راولی .

3)دريمه برخه دټويټر کور پاڼي :

د پاڼي دغه ځای هم په شپږو برخو باندېنيو برخو وويشو.

a)په Your tweets کي ستاسي د ټويټ يا پيغامونو تعداد يا ستاسي د وروستيو کړو ټويټونو يا پيغامونو تعداد دربنايی .

b)Following کي دهغه خلکو شميره دربنايی کوم چې تاسي يی په ټويټر کي څاری او تعقيبويی

c) Followers کي د هغه خلکو شميره او تعداد در ښايی کوم کسان چې تاسي او ستاسي کړني نظريات او افکار څاری او تر تعقيب باندې د هغوی ياست ،

d) Who to followپه دی ځای کې تاسې ته د ټویټر د لوری هغه کسانو ورانديز کيږي کوم چې ممکن ستاسې ورسره علاقه وي چې په دی اړه مو مخکې ورته اشاره وکړه.
e) Trends په ټویټر کې هم د ټک کولو امکان شته دی چې په دی ځای کې تاسې ته د ټویټر له لوری د هغه Tags،اطلاعات او عباراتو کوم چې په ټویټر کې ډیر طرفداران لری تاسې ته در ښایی.
f) Activity په دی ځای کې د هغه کسانو ورستی کړنې درښودل کيږي کوم چې تاسې يې تعقيبوی د ټویټر په پاڼې باندې چې په دی برخه به په ورستيو کې هم د غږيږو ....؟

د ټویټر Twitter follow button: په دی ځای کې ټویټر هغه امکانات او کړنې چې ممکن تاسې په وروستيو کې ورته ضرورت شي درښايی کوم چې په ټویټر کې د ټویټ کولو لپاره له تاسې سره مرسته کوی او هرکله هم چې تاسې ټویټر ته داخليږی په دغه ځای کې تغيرات راځی ځکه نو که چېرته تاسې په دی ځای کې نوی تغيرات وينی او يا داسی جملی او کليمات وليدل چې تاسې ورسره اشنا نه ياست نو وار مو مه خطا کوی .

د Sundry يا هم دټويټردکور پاڼې متفرقه برخه : په دی ځای کې تاسې ته د ټویټر په اړه اطلاعات او نور معلومات درښايی لکه دا چې ټويټر څه شي دی ؟د ټویټر د لارښود پاڼه د ټویټر د مبايلونو لپاره او داسی نوری مهمی کړنې او معلومات ؟

د ټویټر د پروفايل جوړولو برخه :


د ټویټر پروفايل ته ځو او په دی به ځان پوهه کړو چې د پروفايل اهميت په څه کې دی ؟

سمه ده د پروفايل اهميت په دی کې دی چې تاسې نور وهڅوی چې د ټویټر له لاری تاسې تعقيب کړی نو کله چې تاسې د ډيروخلکو لخوا تعقيب شي نو په اسانی سره ستاسې اواز او پيغام د ډيرو خلکو غوږونو ته رسيږی.

اوس نو که چېری تاسې غواړی چې خپل يوزرنوم بدل کړی نو کله چې تاسې خپل يوزرنوم باندې کليک کړی په دی ځای کې دری 6 شيږ نور آپشونونه تاسې ته پر مخ درځی لکه په باندې شکل کې چې يې ګوری .

vii. Profile or Edit profile
viii. Lists
ix. Help
x. Keyboard shortcuts

Setting .xi
Sign out .xii





1) Profile د پروفایل برخه :

ترټولو مهمه او غوره کاریا کړنه په پروفایل کې د پروفایل د تصویر ټاکل دی ځکه ترټولو لمړی شي چې تاسي د یو چا په پروفایل کې ګوری هغه د نوموړی شخص تصویر دی نو هر څوک کوښښ کوی چې د پروفایل لپاره ډیر ښایسته تصویر غوره کړی ددی کاریا پروفایل ته د تصویر راوړلو لپاره تاسي په دغه پاڼه کې په Choose file باندې کلیک وکړئ تاسي به خپل کمپیوټر ته داخل شي او له هغه ځایه خپل تصویر انتخاب کړی او په open باندې په کلیک کولو سره به هغه تصویرستاسي پروفایل ته

راشي فکر مو وي کوم تصوير چي تاسي د پروفايل لپاره غوره کړی هغه نه بايد له 700 kb څيني زيات وي او د تصوير شکل مو بايد چي JPG,GIF يا هم PNG وي باندې شکل ته پام وکړئ او کړني مي راسره تعقيب کړی .




کله مو چي تصوير پروفايل ته راوړ د باندې شکل په څير درته باندې کړني هم ترسره کړی




تاسي له دی ځايه هم کولای شئ چي خپل تصوير ته تغير ورکړی او بل تصوير د ځان لپاره وټاکي او وريسی باندې ځای کي د Header خبره دی په کوم کي چي تاسي کولای شئ د پاڼي لپاره مو سرليک هم وټاکي چي نوموړی سرليک په اندازه د 1252x626 کي وي چي حد اقل 5MBورته ټاکل شوی دی .

د Name په ځای کې مو نوم ولیکې هغه نوم د کوم پواسطه چې تاسې نور خلکو په منځ کې پری شهرت لری ترڅو وکولای شئ په اسانی سره تاسې پیداکړی.

په Location کې مو د اوسیدو ځای انتخاب کړی په کوم ځای یا ملک کې چې اوسیږی مثلا زما وطن افغانستان دی او زه په افغانستان کې اوسیږم نو ځکه زه باید افغانستان وټاکم.

د Website کې مو د وویبپاڼې ادرس ولیکې او یا هم که تاسې د کوم بلاګ لروونکې یاست نو کولای شئ دلته خپل بلاګ هم ولیکې .

په Bio کې تاسې کولای شئ ځان په ډیرو لنډو ټکو کې معرفی کړی چې اکثر حد د معرفت لپاره 160 ټکې ټاکل شوی دی




او که چیری تاسې غواړی چې ستاسې د تویټر د پیغامونو کومه برخه یا کوم لنډ پیغام د فیسبوک له لاری هم خپره شي نو ددی کار لپاره تاسې کولای شئ چې په post your tweets to Facebook باندې کلیک وکړئ ترڅو ستاسې لیکلی پیغام د ټویټر له لاری په فیسبوک کې هم نشر شي همدارنګه تاسې کولای شئ چې پورته ټولی خانی خالی او نالیکلی پریښږدی ځکه دغه کړنې اختیاری دی او دټولو کړنو وروسته مو هیر نه وي چې په Save changes باندې کلیک وکړئ ترڅو نوی تغیرات مو ثبت شي .

2) Lists تاسې کولای شئ چې د ځان لپاره په ټویټر کې یو لیست جوړ کړی د لیست د جوړولو لپاره باندې شکل مطابق کار وکړئ.

Written By: Eng.Sohail (Farooqi) ننګرهار افغانستان



Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com




په پورته پانه کي تاسي په Create list باندي کليک وکړئ د باندي شکل په خير به يوه بله کوچنی پانه درخلاصه شي چي په هغه کي کولای شئ د نوموړی ليست لپاره نوم او تشريحات وليکي .





هير مو نه وي کله چي ليست جوړوی نو باندي دوو اپشنونو ته پوره پاملرنه وکړئ




Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

- د Public اپشن که غوره کړی نو ستاسي نوموړی لیست ټول د تویټر کاروونکي کتلای شي
- او که تاسي Private غوره کړی نو تاسي لیست به یواځی او یواځی تاسي وکولای شئ چي وي ګوری بل څوک یی په لیدو قادر نه دی .

3) د Help اپشن : د مرستی آپشن پواسطه تاسي کولای شئ چي د تویټر کي د کومی ستونزی په اړه چي تاسي ورسره لاس وګریوان یاست مرسته وغواړی او له هغه ځای مو مشکل حل کړی د باندې شکل مطابق کړني او مرستیوپه صورت کي تاسي له تویټر څخه کومک غوښتلی شي ګټه ورڅخه اخسیتلی شي ترڅو تاسي نوموړی مرسته په اسانی سره حل شي .




د مثال په ډول مونږ یواځی د پورته کړنو څیني د Me اپشن غوره کړی او ګورو چي کومی مرستی د Me څخه په لاس راوړلی شو اوپه کومو کارونو کي له مونږ سره مرسته کولای شئ .








Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

په پورته اپشنونو کې مونږ یواځې د Account setting ځینې اختیاری کړنو ځینې یادونه کوو لکه د نوم بدلو،ایمیل ادرس بدلول،د ایمیل د تائیدولو لاره ،ژبې او ملک کې تغیرات ، ارشف ساتل او ډاونلوډول همدارنګه د تویټر د اوکاونټ د منځه وړلو او بیا رغولو لارو چارو کې د تویټر ځینې مرستې غوښتنې شو چې تر یو حده مو پورته کړنې په تیرو درسونو کې ولوستل او ځینې نور به یې په راتلوونکې درسونو کې ولولو .

4) د Keyboard shortcuts په مرستې سره کولای شو چې په تویټر کې دکمپیوټر د کې بورډ پواسطه د لنډو لارو کړنې ترسره کړو بیدون له دې چې کوم آپشن غوره اویا هم د کومې کړنې لپاره کومې مینو ته ولاړ شو کولای شو دکې بورډ له دې لارې هغه کارونه په لنډ ډول تر سره کړو چې ځینې لنډې لارې د کې بورډ تویټر لپاره په باندې تصویر کې درته ښایم پورته پاملرنه وکړئ ځینې لنډې لارې په باندې ډول دی .




5) د Setting برخه :کله هم چې تاسې په Settingباندې کلیک وکړئ نو تاسې به د باندېنیو آپشنونو سره مخ شې کوم چې د پاڼې په کې ڼ لورې کې واقع دی باندې شکل ته پاملرنه کړی .





پورته هره کړنه به په ترتیب سره یو په یو په باندې ډول تر تشریح باندې ونیسو.

a) Account پواسطه تاسي کولای شئ چي خپل اکاونټ کي مختلف تغیرات راولی او په اکاونټ کي مو تولی کړني په پوره مهارت سره تنظیم او ترتیب کړی باندې شکل ته پاملرنه وکړئ کوم کي چي تاسي د Accountپه اړه دی پکي ځیني نور کارونه هم شته دی سره یوځای به پری کار وکړو باندې پانه می د لا وضاحت لپاره په دوو برخو ویشلی دی ؟

Written By: Eng.Sohail (Farooqi) ننګرهار افغانستان



Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com




- په username کې تاسې خپل د خوښې نوم ولیکې او یا هم دا ستاسې هغه نوم دی کوم چې تاسې د نوم لیکې او اکاونټ جوړولو په وخت کې د ځان لپاره غوره کړی وو چې تاسې خلک کولای شئ د تویټر پر پاڼې په دی نوم وومومی .
- په Email کې تاسې خپل ایمیل ادرس ولیکې دا هغه ایمیل دی کوم چې تاسې د اکاونټ جوړونې په وخت کې لیکلی دی او کولای شئ وروسته له دی دغی ایمیل ته مو هم تغیر ورکړی او یو بل نوی ایمیل ادرس د ځان لپاره غوره کړی ستاسې دغه ایمیل ادرس به نورو خلکو ته نه ښکاره کیږي یواځې تاسې کولای شئ چې خپل ایمیل ادرس ګوری او بل کس به یې په لیدو قادر نه وي او که چېرې تاسې غواړی


چې تاسې دی د ایمیل ادرس پواسطه نور خلک د ټویټر پر صفحی ومومی نو تاسې کولای شئ چې په let others to find me by email address آپشن غوره کړی چې په Discoverability کې د همدی پاڼي په راتلوونکي برخی د Security and privacyکي درته تشریح کړم او یادونه به ورڅخه وکړو .

- په Language تاسې کولای شئ چې د ټویټر پاڼه مو په هغه ژبه چې خبری کوی و هغه ژبی ته تغیر وکړئ خو په ډیری خواشینی سره ویلای شم په ټویټر کې تراوسه پوری پښتو ژبه نه ده اضافه شوی اما کولای شو چې د Time Zone له لاری د ساعتونو د توپیر له لاری خپل ځای وټاکولکه د (GMT+04:30)Kabul غوره کړی چې له دی لاری مو هم ژبه مشخص کې دای شي . دټویټر بل بنه والی په دی کې دی که تاسې غواړی چې د ټویټ کولو په وخت یا د ټویټ سره خپل ځای او موقیعت چاته وښایی نو تاسې دا کار په ډیری اسانی سره کولای شئ ددی کار لپاره تاسې کولی شي چې د Add a location to your tweet باندې کلیک وکړئ ترڅو ستاسې مکان معلوم کړی شي .اما متاسفانه چې دغه کړنه هم د افغانستان لپاره ناشونی دی مونږ نشوکولای اوس مهال داکار ترسره کړو.




نو د ټویټ کولو په وخت کې تاسې کولای شئ دغه آپشن فعاله او یا غیر فعاله کړی مګر بهتره او غوره به وي چې تاسې دغه آپشن غیرفعاله کړی ترڅو د ټویټ کولو په وخت کې مو موقیعت معلوم نشي چې په دغه برخه کې نور معلومات د Security په tweet location هم ووایم چې تاسې کولای شئ ددی کماند پواسطه ټویټ شوی موقیعتونه مو له منځه یوسی نو ددی کار یا د موقیعتونو د پاکولو لپاره په Delete all location information باندې کلیک وکړئ .

- Don’t inform me before showing media that may be sensitive یو له هغه آپشنونو ځيني دی په ټويټر کې د کوم پواسطه چې مونږ کولای شوچې هغه ويډوګانی او عکسونه کوم چې غيراخلاقی يا هم د تاوتريخوالی ډک وي هغه خپاره شوی وي او مونږ يی کتل غواړو نو د ليدو په وخت کې دکوم اخطاره پرته دی راته وښودلی شي نو تاسي له دی ځايه ټکمارک ليری کړی.اوکه مارک پری ولګوی نو هغه ويډوګانی او کړني چې غير اخلاقی جنبه ولری د ليدو وړاندی مونږ د اخطاره سره مخ کړی او خبرداری راکړی ترڅو له ليدو ځيني ډډه وکړو.
- Mark media I tweet as containing material that may be sensitive سره تاسي کولای هر هغه ټويټ يا پيغام چې تاسي يی نشرول غواړی او لرونکې د کوم تاوتريخوالی او يا هم غير اخلاقی وي نو که چېرته يی نور خلک کتل غواړی مخکې له دی چې دوی ستاسي دا فعاليت وګوري هغوی ته دی اخطاريه وکړئ شي چې د غه فعاليت لرونکې د تاوتريخوالی او يا هم غير اخلاقی حالت لرونکې دی ترڅو د کتلو ځيني يی ډډه وکړئ.او که چېری خدای مه کړه تاسي د داسي مسئلو د خپرولو لپاره اقدام وکړئ او نور خلک دی دا تصويرونه او ويډوګانی وګوري هغوی دی بی له کوم اخطاره وکولای شئ ستاسي نشر شوی کارونه ووينی نو په دی آپشن باندې ټکمارک وکړئ. **نو که چېرته تاسي داسي کوم غير اخلاقی کار د ټويټر له لاری ترسره او نشر کړ ستاسي اکاونټ به د ټويټر د ټيم له لوری مسدود او دمنځه به ولاړ شي نو هيله لرم داسي کوم کار ونکړی او انشاالله نه به يی کوی.**




- د Account دوهمه برخه کې د your tweet archive ځای لری په دی سره تاسي کولای شئ چې خپل ټويټر اکاونټ ټول ټويټونه او پيغامونه کوم چې تاسي د لمړی ورځی د ټويټ کولو څخه تراوسه پوری کړی او همدارنګه ځيني نور معلومات مو له دی لاری د يو لينک پواسطه ډاونلوډ کړی باندې صفحی ته پام وکړئ د your tweet archive لپاره .



Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com




کله چې تاسي په Request your archive باندې کلیک وکړئ نو یو لینک ستاسي ایمیل ته ځی نو بیا تاسي کولای له هغه لاری خپل ټویټونه او پیغامونه ډاونلوډ کړی وروسته له دی کاره تاسي په Save changes باندې کلیک وکړئ ترڅو تغیرات مو ثبت کړای شي .

o وروستی کار به مو په Account کي د اکاونټ د منځه وړل وي او هغه هم تاسي کولای شئ چې د Deactivate my account باندې په کلیک کولو سره ترسره کړی ترڅو تاسي اوکاونټ له ټویټر څخه دمنځه ولاړ شي که چېری تاسي تر 30 ورځو خپل اکاونټ ته داخل نشي نو تاسي ټول ډیټا او معلومات به په خودکاره توګه د ټویټر له لوری دمنځه ولاړشي او اوکاونټ به مو هم ختم شي او که بیا ځلی په دننه دننه د 30 ورځوکي خپل اکاونټ ته داخل شي نو ستاسي اکاونټ به یو ځل بیا خوندي شي اوټول معلومات به مو په ځو شیبو کي Reset اوبیاځلی جوړ شي چې بیا په ساده ډول خپل اکاونټ ته داخلیدای شي او له اکاونټ مو کار اخیستلی شي چې و وروستیو کي په دی اړه هم په مفصله توګه خبری وکړو انشاالله اوسر به مو پری خلاص کړم په مکمله توګه .

Security and Privacy (b

✓ د Login verificationآپشن دی دکوم پواسطه چې تاسي کولای شئ کله هم چې تاسي خپل ټویټر اکاونټ ته داخل شي وروسته له دی چې تاسي خپل ایمیل ادرس او پاسورډ داخل کړ بیا هم تاسي خپل اکاونټ ته د داخلیدو لپاره یو کوډ ته ضرورت ولری چې دغه کوډ په داخلولو سره به تاسي خپل ته په کامیابی سره داخل شي تاسي په دی ځای د دریو حالتونو سره مخ کیږي چې په باندې ډول یی هریو په واضحه توګه تر تشریح باندې نیسم.

اول: Don't verify login requests آپشن مو که فعاله وي نو له تاسي به د ټویټر اوکاونټ ته په داخلیدو سره کوم تایئدونکي کوډ ونه غوښتلی شي یواځی په ساده ډول د ایمیل او پاسورډ په ورکولو سره خپل اکاونټ د ټویټر ته به داخل شي .



Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

دوهم :د Send login verification to my phone آپشن که مو فعاله کړی وي نو کله چې تاسي خپل اکاونټ ته داخلیږی نو د یوتایئدوونکي کوډ پواسطه تاسي کولای شئ چې خپل اکاونټ ته داخل شي دغه کار ستاسي د دقیقی پیژنګلوی یوه بله لاره ده نو کله چې تاسي خپل اکاونټ ته داخلیږی ستاسي د ګرځنده ټیلیفون شمیری ته یو کوډ د ټویټر له لوری درلیږل کیږي کله چې تاسي د مبایل ځیني هغه کوډ په ټویټر غوښتلی ځای کي داخل کړی نو بیا تاسي کولای شئ چې خپل اکاونټ ته داخل شي او په غیر له دی تاسي به ونه شي کولای چي خپل اکاونټ ته داخل شي چي په دی اړه مو په تیرو درسونو د جیمیل په برخه کي هم یادونه کړی وه.

دریم : د Send login verification to the twitter app آپشن فعالولو لاره دی دکوم پواسطه چي تاسي کولای شئ په مبایل کي مو خپله یوکوډ جوړ کړی ددی کار لپاره تاسي په خپل ټویټر اوکاونټ کي Application tab ته ولاړ شي د Setting له لاری او په دی ځای کي په Generateباندې کلیک وکړئ بیا خپل پاسورډ مو داخل کړی اوبیاځلی په Generate باندې کلیک وکړئ نو دوی به یو کوډ جوړ کړی تاسي ته نو کله چې تاسي خپل اکاونټ ته داخلیدل غواړی نو ددی کوډ پواسطه کولای شئ چي داخل شي اما فکر مو وي دغه کوډ وروسته له یوه ساعته کار نکوی نو دننه دننه د یوساعت کي باید تاسي خپل اوکاونټ ته داخل شي ددی کار لپاره دوهمه لاره په باندې ډول دی .

له ټول بار نه په me باندې کلیک وکړئ Setting کې په gear icon باندې کلیک وکړئ په دی ځای کي د Account name ته مولاړ شي او په نوم باندې مو کلیک وکړئ ترڅو Security option ته ولاړ شي او له دی ځایه Login verification مو on کړی بیا په confirm کلیک وکړئ یا انټر ووهی .کړنه یې په باندې ډول دی .

# Using login verification on Twitter for iOS or Android


**To set up login verification on Twitter for iOS or Android:**

1. From the **Me** tab on your device, tap on the **gear icon** and select **Settings**.
2. Tap your **Account name** to see the **Security** option.
3. Flip the "Login verifications" switch to **on**.
4. Tap **Confirm** to enroll.

The next time you log in to your account on twitter.com, a push notification will be sent to your phone. Open the push notification to approve the login request. Once you approve, you will be immediately logged in to your account on twitter.com.

**To disable login verification for iOS or Android:**


1. From the **Me** tab on your device, tap on the **gear icon** and select **Settings**.
2. Tap your **Account name** to see the **Security** option.
3. Flip the "Login verifications" switch to **Off**.
4. Tap **Confirm** to save your settings.




✓ د Password reset آپشن د پاسورډ د بدلولو لپاره د شخصی ایمیل یا ګرځنده ټیلیفون شمیری ټاکل دی او وړاندیز دی ستاسي له لوری ټویټر پاڼي ته نو کله چي تاسي غواړی خپل پاسورډ بدل کړی نو داکار تاسي هلته کولای شئ چي یو لینک ستاسي ایمیل یا شخصی ټیلیفون شمیری ته ځی تو تاسي باید خپل ایمیل ادرس یا ګرځنده مبایل شمیری ته د پاسورډ د بدلولو لپاره ولاړ شي ترڅو وکولای شئ له هغه لاری

خپل پاسورډ بدل کړی نو دپاسورډ د بدلولو لپاره دوی تاسي ته کوډ درکوی او یا هم لینک درلیږی ایمیل ته مو.

- ✓ د Tweet Privacy آپشن دی د کوم پواسطه لکه څنګه چي مو مخکي په دی اړه درته وویلی وو کله چي تاسي دغه آپشن فعاله کړی وي نو ستاسي ټویټونه او پیغامونه له دی وروسته پرته ستاسي له اجازی هیڅوک نشي کولای چي ویی لولی او یاهم ویی ګوری نو که چیرته څوک غواړی چي ستاسي ټویټونه او پیغامونه د ټویټر پر پاڼي ولولی تاسي څخه به اجازه غواړی که تاسي ورته په دی برخه کي اجازه ورکړه نو دوی کولای شئ چي ویی لولی او که مو اجازه ورنکړ نو دوی به هیڅکله هم پر لوستلو یی قادر نشي .
- ✓ د tweet location کي مو مخکي هم یادونه کړی وه په دی آپشن سره تاسي کولای شئ چي مشخص کړی ځایونه چي مو د ټویټ کولو په وخت کي ښودلی دی ټول پاک او له منځه یوسی .
- ✓ Discoverability دی دکوم پواسطه چي تاسي خلک د ټویټر پرپاڼي کولای شئ د ایمیل ادرس پواسطه ومومی چي په دی برخه کي مو مخکي په کافی اندازه معلومات ترلاسه کړ.






Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com


✓ Personalization دغه آپشن او اوس مهال لپاره د ټویټر د ټولو کارونکو لپاره فعاله نه دی او ټول له دی آپشن ځيني کار نه اخيستلای په دی ځای کي تاسي ته دربنايي چي تاسي د ټويټر د ويبپاڼي له لاری کومی نوری ويبپاڼو ځيني ليدنه کړی ده.

✓ Promoted content دی دکوم پواسطه چي تاسي ټول هغه معلومات او کارونه دکوم سره چي تاسي د ټويټر د اوکاونټ جوړولو په وخت کي خوښی ښودلی وه اوس په دی ځای کي دهغوی د ښودلو او نه ښودلو په اړه اختياری کړني درته ښايي چي کتل يې غواړی اوکه نه ؟چي وروسته له دی ټولو کارونو د ترسره کولو تاسي هير نکړی چي کړني مو ثبت کړی نو ددی کار لپاره په Save changes باندي کليک وکړئ ترڅو کړني مو ثبت شي.


c) Password له دی لاری تاسي کولای شئ چي خپل د ټويټر پخوانی پاسورډ مو بدل کړی او يو نوی پاسورډ د ځان لپاره غوره او وټاکي . نو د پاسورډ د بدلولو لپاره تاسي کولای شئ چي د لای تصوير په ځير کړنه ترسره کړی په Current password کي مو خپل پخوانی يااوس مهال فعال پاسورډ وليکي او په new password د ځان لپاره يو نوی پاسورډ وټاکي او دغه نوی پاسورډ مو بياځلی د پورته نوی پاسورډ تائيدونکي دی نو دلته تاسي نوی پاسورډ مو بيا وليکي د دی کار يا پاسورډ د بدلولو لپاره باندي شکل ته وګورئ او کړني مو د باندې شکل په ځير ترسره کړی .



d)د Mobile يا ګرځنده ټيليفون شميره : ددى آپشن پواسطه تاسي کولاى شئ چي د ټيليفون له لارى خپل ټيليفون څخه هم ټويټر ته لاس رسى وکړئ او په ټيليفون کي مو ټويټر وکاروى ددى کار لپاره د باندې تصوير په غور کار وکړئ .




په پورته صفحه کي په Mobileباندي کليک وکړئ او ددى پاڼي مخى ته په activate twitter text messaging کي د country/region کي مو ملک وټاکي او د هغه باندي ځاى د phonenumber کي مو د ګرځنده ټيليفون شميره وليکي اوورستى کړنه به مو دا وي چي د carrier کي مو هغه مخابراتى شبکه وټاکي له کومى چي تاسي دګرځنده ټيليفون شميره کاروى لکه :afghan / Roshan/Etisalat Wasel /MTN/AWCC/telcom اوداسى نور.او له دى وروسته په Activate phone باندي کليک ترڅو کړنه مو ترسره شي او له وروسته وشي کولاى چي ټويټر





مو په مبایلونو کې هم وکاروی اوکه د تویټر کارول په مبایل کې نه غواړی نودغه پروسه مو همدلته د Cancel activation پواسطه ودروی او ختم یې کړی .
که تاسې د تویټر له دی وړاندیز څخه کار اخلی نو په تاسې باندې کوم لګښت یا مصرف نه راځی اوکه تاسې ستندرډ دیټاوی او ستندرډ پیغامونو شریک کول غواړی نو هلته په تاسې لګښت راځی .

e) Email Notifications په دی ځای کې هر هغه فعالیتونه کوم چې زمونږ او زمونږ دتویټونو او پیغامونو مربوطه دی بنودل کیږي او هغه تر کتنی او کنټرول باندې راوستی شو یاهم داچې کله او څنګه تویټر کولای شئ چې مونږ ته کوم ایمیل راواستوی چې د دغی پاڼې پر کړنوبه په څلورو برخو کې پری رڼا واچوو.دباندې کړنو د ترسره کې دو لپاره دی مونږته تویټر ایمیل راولیږی.

- ✓ هغه فعالیتونه کوم چې زمونږ او زمونږ د تویټونو او پیغامونو ترمنځ ترسره کیږي.
- ✓ هغه فعالیتونه کوم چې ستاسې د بیاځلی تویټونو او پیغامونو مربوطه دی .
- ✓ هرهغه فعالیت کوم چې ستاسې د نیټ ورک مربوطه دی
- ✓ آپډیټ کېدل او نوی ورژن او خدمتونو تر لاسه کې دو په صورت کې مونږ ته اییمل کول.

دغه ټولی کړنې مو درته په باندې تصویر کې د لا وضاحت لپاره ښودلی دی .







Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

په پورته تصوير کې مو د Email Notification مربوطه کړنې تر بحث باندې نيولی ووچې اوس ورسره په پوره ډول بلد شوی ياست .

f) د Profile برخه دی کوم چې موږ په تير درس کې په مفصله توګه تشريح کړ؟

g) د Design برخه په کوم کې چې مونږ کولای شو د پاڼې شاته پردی ته کوم ډيزاين ورکړويا کوم رنګی Background د پاڼې لپاره انتخاب کړو.








Telephone No: 0786500292 / 0795770440

E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

h) د Application برخه دغه آپشن تر هغه نه فعاله کیږي ترڅو چې تاسې نور پروګرامونه د خپل تویټر اکاونټ سره وصل نه کړی او که چیرې تاسې په تویټر کې د نوی اکاونټ لروونکي یاست یعنی نوی اکاونټ مو جوړ کړی وي نو تاسې ددی آپشن په لیدو به قادر نشي او تاسې Application نشي لیدلی .





i)د Widgets برخه :یا ګرافیک شکل د تویټر دکړنو ښودل یا هر هغه شي ته ویجیټس وایی دکوم شي چې نوم دچاځیني هیر شوی وي یعنی دیو شي په معنی دی .ددی آپشن پواسطه کولای شو چې یوعامه تویټر پخپل ویبپاڼي کې اضافه کړو باندې شکل ته پام وکړئ .






Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

په پورته پاڼه کې به د نوی Widgets د جوړولو لپاره په create new باندې کلیک وکړئ د باندې شکل غوندې یوه بله پاڼه به درته خلاصه شي او په هغه کې باندې کړنې ترسره کولای شو.





پورته د ویجیټس د کمانډ لپاره مختلف کارونه کوم چې تاسې هغه د خپل ذوق مطابق ډکولی او تش پرېښودلی شي هغه د timeline، favorites یا هم نوری کړنې وي .

❖ په Activity کې کله هم چې تاسې له دی ځایه لیدنه کوی یو څه نوی تغیرات به پکې راغلی وي چې ممکن داسی کارونه او شیانو سره پکې مخ شي کوم چې تاسې ته ګټور تمام شي او د ټویټر د استعمال په وخت کې مو پکار شي .

❖ Trendsیو ډیر جالبه او په زړه پوری برخه په ټویټر کې د Trendsدی کوم چې په دی ځای کې ډیر تاوده او مهم بحثونه چې د میلیونو کسانو له لوری پری بحث او خبری کیږي تاسې هغه وګورئ همدارنګه تاسې په دی برخه کې هغه جملې او کلیمات لیدلی شي کوم چې په ټویټر کې ډیر طرفداران لری عمومی

ډول ټویټر په دی ځای لس 10داسی مهم او غوره کړني تاسي ته دربنايي کوم چي په ټويتر کي ډير زيات طرفداران لری کله کله هم داځای د اعلاناتو اوتبليغاتو لپاره هم کارول کيږي .
چي بيا دغه ځای د promoted په نامه مونږ ته معرفی او پيژندل کيږي.باندي شکل ته پام وکړئ .




په دی ځای نړيواله trends مونږ کتلی شو او که وغواړو چي د کومی داسی سيمی په اړه trends وګورو کوم چي مونږ غواړو نو دهغی سيمی د ټاکلو لپاره په Change باندي کليک وکړئ او هغه سيمه وټاکي اما متاسفانه چي په دی ځای کي د افغانستان لپاره کوم کار نه دی شوی او په دی ځای کي افغانستان وجود نه لری همدارنګه تاسي له دی ځايه کولای شئ چي د جغرافياوی سيمو پربنسټ يو مکان وټاکي او د هغه ځای په اړه ټويټونه خبرونه او نور مهم اطلاعات د ټويټر پر پاڼي وګورئ .نو تاسي دلته نوموری سيمه

وټاکي  وروسته په  Done باندې کلیک وکړئ له دی وروسته به په دی ځای کې دنومړوی ځای په اړه اطلاعات درکول کیږي.

- ❖ د timeline په برخه کې کله چې تاسي خپل ټایم لاین ته ولاړشي کوم ټویټونه چې د نورو خلکو په پواسطه شوی وي پر یو د هغو ودریږی نوتاسي به د باندېنیو څو اپشنونو سره مخ شي .

1) Reply

2) Retweet

3) Favorite




نوکه  چېرې تاسي له داسی کوم ټویټ یا پیغام سره مخ شوی چې په هغه کې له تاسي ځیني د ځواب غوښتنه شوی وي او یاهم کوم اړین خبر ګوری او په اړه یی ځواب ویلوو ته چمتو یاست نو دلته دی چې د  Reply کړنه تاسي سره مرسته کوی ترڅو له دی لاری نومړوی پیغام ته ځواب وویی نو کله چې تاسي په  Reply باندې کلیک وکړئ تاسي به د باندې شکل په څیر د کوچنی پاڼې د خلاصیدو سره مخ شي په هغه کې مو



Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

ځواب ولیکي  او د لیږلو لپاره یې په  Tweet باندې کلیک وکړئ ترڅو ستاسې ځواب ولیږل شي د نوموړی مطلب په اړه .




دوهمه خبره د  Retweet دی  کله مو چې کوم ټویټ خوښ شو یا هم د کوم مهم او اړین خبر سره مخ شي او  غواړی هغه د نورو سره شریک کړی نوکافی دی چې یواځې په  Retweet باندې کلیک وکړئ ترڅو نوموړی ټویټ ستاسي د ټویټر له پاڼې بیاځلی خپور شي .په پورته  پاڼې کې ګورئ چې نوموړی خبر د  ارواخاد د ځینې کسانو له خوا بیاځلی ټویټ شوی دی .

دریمه خبره د Favorite دی نو کله هم چې تاسې دکوم غوره او جالبه ټویټ یاپیغام سره مخ شي او د لوستلو لپاره یې وخت نه لری دلته دی چې دغه آپشن تاسې سره مرسته کوی ترڅو تاسي هغه Favorite خوښ کړی نو نوموړی مطلب به ستاسې پروفایل برخې ته ولاړی شي کوم چې بیا تاسې کولای شئ د فارغه وخت کې ولولی .

همدارنګه کولای شئ چې خپل نشر شوی ټویټ باندې کړنې په خیر دمنځه یوسی او پاک یې کړی .




❖ څنګه کولای شو چې جالبه او غوره مطالب  او ټویټونه خپاره او نشر کړو ؟

ددی لپاره چې تاسې څنګه کولای شئ چې غوره او جالبه موضوعات او معلومات د ټویټر له لاری خپاره او نشر کړی ددی کار لپاره کوم داسی معلوم فورمول اومشخصه کړنه وجود نه لری اما کولای شئ چې په دی برخه کې دوو ټکو ته اشاره وکړو چې د امکان تر حده دهغه پواسطه کولای شو جالبه او غوره ثابته کړو خپل ټویټونه او پیغامونه هوکې  ممکن سل په سلو کې دغه لاره سمه نه وي مګر تر ډیره بریده ستاسې د پیغام په غوره والی او جالبه کې دو کې درسره مرسته وکړئ .

a) غوره والی یا کېفیت
b) لږوالی یا کمیت

دیوټویټ یا پیغام پر کېفیت اکتفا وکړئ نه دهغه په کمیت دا په دی معنی چې تاسې د ورځې 100 داسې ټویټونه او پیغامونه نشر او خپروی کوم چې مهم او ګټور نه وي اونه هم کوم غوره والی لری نو بهتره دی چې تاسې د ورځې یو یا دوه داسی پیغامونه یاټویټونه نشر کړی چې هغه مهم او غوره وي او مهم مطالب په برکې  ولری د ځانه سره نو په همدی وجه ویلای شم چې په کېفیت ولاړ وسی او اکتفا وکړئ نه پر کې میت ؟

نو ددی لپاره چې خپل د ټویټونو یا پیغامونو کمیت پورته یوسو نو کافی کنم چې هر هغه شي ټویټ کړی کوم چې تاسي ته غوره او جالبه معلومیږی هغه که تصویر فیلیم یا کوم خاص پیغام وي چې کېفیت او جذاب والی د پیغام مو له هیره ونه وځی

### ❖ څنګه کولای شو چې په ټویټر کې د ډیرو خلکو له خوا تعقیب او وڅارل شو . Followers' ډیرولو لاری

هغه خلک کوم چې تاسي د ټویټر پر پاڼي تعقیبول غواړی او تاسي تعقیبوی هغه مساوی دی له هغه کسانوسره کوم چې د یوی ویبپاڼي لیدوونکي دی نو په همدی وجه کله چې تاسي د د ډیروخلکو پواسطه وڅارل شي نو ستاسي اواز به د ډیروخلکو غوږونو ته رسیږی په ټویټر کې دهغه خلکو چې تاسي تعقیبوی او ستاسي تعقیبول غواړی د هغوی د ډیریدو لپاره ځیني قوانین وجود لری چې ددی قوانینو پواسطه کولای شوی چې د خپل تعقیب کوونکو followers شمیره ډیر او لوړ کړو ؟

1) کله چې تاسي په ټویټر کې اکاونټ جوړوی نو ځان ښه داډمن او مطمئن کړی هغه ملګری او دوستان چې مو کوم چې په ټویټر کې اکاونټ لری تاسي تعقیبوی که چېرته تاسي پیژني او تاسي سره علاقه ولری نو په قاطع توګه ویلای شم چې هغوی هم تاسي تعقیبوی .
2) پروفایل مو تکمیل کړی ځکه داکار سبب ددی ګرځی ترڅو تاسي د نور خلک په ښه اوبهتره توګه وپیژني او له پیژندلو وروسته تاسي وڅاری .
3) مخکې له دی چې تاسي نور تعقیب کړی لږترلږه تاسي باید 20 ټویټونه یا پیغامونه کړی وي ترڅو هغه خلک چې تاسي نه پیژني تاسي ستاسي د ټویټونو او پیغامونو له لاری وپیژني او ستاسي په اړه ښه وپوهیږی غوره به وي چې ستاسي ټویټونه او پیغامونه دهغه څه په اړه وي دکوم شي سره چې تاسي علاقه لری او هیر مو نه وي چې ستاسي داټول کارونه یعنی د پیغامونو لیږل مو په یوه ورځ کې ترسره نه کړی حد اقل یوه اونی ورته وټاکي او په جریان دیوی اونی مو پیغامونه ولیږی .
4) که ستاسي د ټویټونو او پیغامونه مطابق کوم شخص د معلوماتو غوښتنه وکړئ نوکوښښ وکړئ پیغام او ټویټونو ته یی ځواب ورکړی ځکه مکالمه یا خبراتری ددی سبب ګرځی چې تاسي نور ښه وپیژني او د خپلو خبرو له لاری هغوی توجه د ځان په اړه جذب کړی ترڅو هغو هم تاسي تعقیب او وڅاری .
5) که تاسي د نورو پواسطه ونه څارل شوی نو ناهیلی کیږي مه او د هغوی څارل مه پریښږدی ممکن تاسي د هغوی پیغامونو او ټویټونو ته په ځواب ورکول سره هغوی ځان ته جذب کړی ترڅو هغوی هم تاسي تعقیب کړی فکر مو هغه خلک تعقیب کړی دکوم سره چې تاسي علاقه لری او د تصادفی خلکو د تعقیبولو ځیني ډډه وکړئ .
6) په خپلو ټویټونو کې د نورو خلکو ځیني غوښتنه مه کوی چې تاسي تعقیب کړی په ټولیز ډول هغه خلک ستاسي ټویټونو ته ځواب درکوی کوم چې دخپل Followers په ډیریدو پسی کوښښ کوی

هغو هیځکله هم ستاسې ټویټونه نه لولی کوښښ وکړئ دهغه کسانو په لټه کې شي هغوی ستاسې ټویټونه لولی اوتاسې ورسره علاقه لری ستاسې ټویټونه لولی اوستاسې کړنې هم څاری .

7) هغه کسانو ته کوم چې تاسې تعقیبوی او ستاسې تعقیبول غواړی له کوم خصوصی او یا ځانګړی لاری کور ودانی او مننه مه کوی .

8) په وار وار سره خپل دویب سایټ او ویبلاګ د لینک د لیږلو ځینې نورته د دعوت او بلنی په شکل ډډه وکړئ که تاسې هرځل کوښښ وکړئ چاته خپل د ویب سایټ ولینک ولیږی نو ممکن په راتلوونکې کې هغه ستاسې له لوری کوم وولیږل شي ایمیل پرانستلوته زړه ښه نه کړی او په دی کار سره به ستاسې تعقیبوونکې Followers شمیره کم شي .

9) نورو ته توهین او سپکاوی ونه کړی ځکه ممکن ستاسې دا کار او رویه ددی سبب شي چې followers تعقیبوونکې له تاسې ځینې ډډه او لیری والی وکړئ او ستاسې د تعقیبوونکو شمیره به هم کم شي .

نو پورته ټکوته په پوره پاملرنی سره تاسې کولای شئ چې خپل دټویټر څارونکو شمیره پورته یوسی .

داسی نه دی مه دچا تعقیبوونکې د ټویټر پر پاڼې ډیر وي نو هغه به په خلکو کې محبوبیت لری .

### ❖ د تګلارو غوره کول د ټویټر لپاره ؟

که غواړی چې تاسې هم دنورو پشان یو ماهر او حرفوی کس جوړشي د ټویټر پرپاڼې نو باندې نهه9 قوانینوته په پام کې نیولوسره تاسې کولای شئ خپل هدف ته په اسانی سره ورسیږی او ماهره ټویټ کوونکې جوړشي .

1) که تاسې ډیر ځلی ټویټ کولای نشي نو د نورو خلکو ټویټونه بیاځلی مه ټویټ کوی خپل ټویټراکاونټ له لاری یعنی د هرځل Retweet ځینې لاس په سر شي او داکار مه کوی .
2) که کوم غوره او جالبه معلومات خپرول غواړی کوښښ وکړئ مربوطه مرجع ورسره ذکر کړی.
3) خپلو تعقیب کوونکو Followers ته ځواب ویوونکې وسی .
4) دځان د ډیر صفت او دځان په اړه د تبلیغاتو ځینې ډډه وکړئ .
5) هغه کسان کوم چې تاسې تعقیبوی د شخصی ایمیلونو لیږلو ځینې په جدی توګه ډډه وکړئ .
6) کوښښ وکړئ هر هغه ټویټ چې تاسې یې نشرول غواړی له 140 ټکو ډیراوږد نه وی.
7) د غیرموثق مشکوک او غلطی خبری د نشرولو ځینې ډډه وکړئ .



Telephone No: 0786500292 / 0795770440

E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

8) هغه خلک چې تاسې څارې د هغوی په څارولو کې پوره کوښښ وکړئ .
9) هغه ټویټونه کوم چې تاسې پرې د سپم ګومان کوی او پرې شک لری مه خلاصوی .

### ❖ د ټویټر د اکاونټ خوندي ساتل له هیکرانو اوانټرنېټي یرغلګرو څخه؟

داچې نن ورځ د ټویټر ویبپاڼه ډېر کاروونکې او استعمال کوونکې لری نو ځکه ډېر ځلې هم د دسایبر هایکرانو د حملاتو باندې راځی په ټویټرکې کولای شم چې ووایم یواځی او یواځی څوټکو ته په پام کې نیولو سره کولای شو ترډیره بریده خپل اکاونټ خوندي وساتوګرچې دغه لاره سل په سلو کې تضمین کوونکې نه دی مګر له مونږ سره ډیره مرسته کوی په خوندیتوب کې .

a) غښتلی او پیچلی پاسورډ داکاونټ لپاره مو غوره کړی .
b) په ټویټر کې د HTTPS اپشن فعاله کړی دغه آپشن سبب ددی کیږي ترڅو ستاسې او دټویټر ترمنځ چې کوم ټویټونو او پیغامونو کې چې تبادله صورت نیسی د بتادلې په صورت کې پاسورډ پری لړیږی او د دریم کس د لاس وهنی ځینې خوندي کیږي بیا کوم دریم کس یی لوستلی او لیدلی نشي .
c) دسایبر حملاتو د مخنیوی لپاره اوهمدارنګه د اکاونټ د بندیدو د مخنیوی لپاره مو هغه ادرس ته په کوم کې چې تاسې خپل ادرس او پاسورډ لیکې پاملرنه وکړئ په هغه صورت کې چې تاسې د HTTPS آپشن فعاله کړی وي په دی شکل وي https://twitter.com که چېری بله هره ویبپاڼه ستاسې د ټویټر داکاونټ په څیر ستاسې نه د ایمیل او پاسورډ غوښتنه کوی نو په جدی توګه له پاسورډ او ایمیل ورکولو او داخلیدو ځینې مو خوداری وکړئ .
d) هیڅکله هم په لینکونو باندې کلیک ونه کړی په کوم چې تاسې شکمن شوی یاست او یا هم د سپم شک پری کوی کوم چې د ناپیژندو او مشکوکو کسانو له لوری تاسې ته لیږل کیږي ترهغه چې دهغه لینک د صحت په اړه ځان مطمئن نه کړی هغه مه خلاصوی .



Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

# }}Applications {{

ځيني Applications اپليکې شنونه ددی لپاره چې په اسانه او راحته توګه ټويټ يا پيغام وکړو ؟ د ټويټر يو ښه والی په دی کې دی چې تاسې کولای شئ دمختلفو سافت ويرو او Applications پواسطه ټويټ او پيغام وکړئ پغير له دی چې تاسې د ټويټر ويب پاڼې ته ولاړ شې نو په دی ځای کې تاسې ته څو مهم او غوره Application ځيني يادونه کوم چې تاسې سره په ټويټ کولو کې ورڅخه استفاده کړی او له دی لاری هم ټويټر ته لاس رسی وکړئ.

(a Echofonکه تاسې د فايرفکس انټرنيټ بروزر ځيني کار اخلی نو دغه سافت وير يو ډير مهم بروزر دی ټويټ اکوفون لپاره ددی سافت وير پواسطه تاسې کولای شئ چې د فايرفکس له لاری بيدون له دی چې ټويټر ويب پاڼې ته ولاړ شې هغه وروستی ټويټونه او پيغامونه کوم چې د نورو پواسطه ترسره شوی وي وګورئ او ويی لولی او هغوی ته له دی لاری هم ځواب ورکړی اويا له دی لاری هغوی ته شخصی ايميلونه وليږی.

(b Silver Bird که تاسې دګوګل کروم ځيني کار اخلی نو سيلور برډ يو دهغه لارو ځيني دی کوم چې تاسې له لاری په اسانی سره ټويټونه کولای شئ او کړنه يی د فايرفکس په شان دی.

(c Twitter for iphoneکه تاسې د ايفون ګرځنده ټيليفون ځيني کار اخلی نو تاسې کولای شئ له هغه لاری ټويټ کړی ايفون هم يو له مهم او غوره Applicationsځيني دی دی کوم چې د ټويټر لپاره او ټويټر پواسطه منځ ته راغلی دی ددی Applictionپواسطه تاسې هرهغه کار چې د ټويټر پر پاڼې کولای شئ له خپل ايفون له لاری ترسر کړی.

(d Twitter for android که تاسې له لاری ټويټر کاروی نو دغه لاره هم ډير هوسا او راحته لاره د ټويټر د استعمال لپاره دی چې تاسې ددی لاری ټويټ وکړئ او دغه Applictionهم د ټويټر پواسطه منځ ته راغلی دی.

### ❖ د یو اکاونټ بلاک کول او د سپم ګذارش ورکول ټویټر پاڼې کې ؟


د ټویټر له لارې تاسې هم کولای شئ چې هر هغه ایمیل کوم چې تاسې ورباندې د سپمر او سپم ایمیل شک کوی اود نامعلومو کسانو له لوری د هک کولو لپاره درلیږل کیږي بلاک او بند کړی چې په اینده کې له داسې ایمیلونو ځینې خوندي شي او داسې ایمیلونه در ونه لیږل شي نو که تاسې پر کوم ایمیل شک کوی او پوهیږی چې نوموړی ایمیل د اسپم شکل لری او د اکاونټ د هک کولو لپاره مو درلیږ کیږي نو یواځې اویواځې ددوی پروفایل ته ولاړ شي او له هغه ځایه په Report usename for spamer باندې کلیک وکړئ ترڅو هغه ایمیل ټویټر ته ستاسې له لوری اسپم وپیژندل شي او هغوی یې بلاک کړی باندې شکل ته پام وکړئ دغه کار مو پکې ترسره کړی.




په پورته پاڼې کې که تاسې ددی ایمیل اسپم خبر ورکوی ټویټر ته نو په Report@username for spam باندې کلیک وکړئ ترڅو د اسپم ګذارش پری درج شي او داسپم ایمیل په ځیر وپیژندلی شي او که تاسې غواړی نوموړی اکاونټ لروونکي بیلکل بلاک کړی نو تاسې په دی ځای په Bloc@username باندې کلیک وکړئ ترڅو نوموړی شخص بلاک کړی شي نوکله چې تاسې یو ایمیل د اسپم په ځیره کې ټویټر ته ورپیژنی ټویټر هغه سره د اسپم ایمیل چلند کوی او هغه بندوی په خودکاره توګه .ددی لپاره چې تاسې کوم ایمیل بلاک کړی وي او هغه د بلاک ځیني وباسی نو دقیقا هغه مرحلی ترسره کړی کوم چې د یو ایمیل د بلاک کولو لپاره مو ترسره کړی وه .

### ❖ د تویټر دکاونټ دمنځه وړل دی .


ددی لپاره چې تاسي خپل د تویټر اکاونټ د منځه یوسی نو تاسي Setting ته ولاړ شي او له هغه ځای په Account باندي کلیک وکړئ او د پاڼي په باندېنی برخه کي به د Deactivate my account سره مخ شي کوم چې زمونږ هم په دغه درس کي مطلب دی نو تاسي باندي شکل ته پاملرنه وکړئ .




نو کله چې تاسي په دی پاڼه کي په Deactivate my account باندي کلیک وکړئ له دی وروسته به تاسي د باندي پاڼي سره مخ شي چې په هغه کي درته لیکل شوی دی چې ? Is this goodbye یعنی آیا دا

به مو مخه ښه وي ؟ نو مخکي له دی چي تاسي خپل د ټویټر اکاونټ د منځه یوسی او مخه ښه ورسره وکړئ نو تاسي د ټویټر د ټیم له لوری دیو پیغام سره مخ کیږي چي د باندي محتویاتو لروونکي دی .


- مونږ کولای شو چي ستاسي د اکاونټ مربوطه ډیټاوی اومعلومات تر 30 ورځو پوری وساتو چي وروسته به له دی ټاکلی مودی ستاسي د اکاونټ ټول ډیټاوی اومعلومات به په دائمی توګه له منځه ولاړشي نوکه چیرته تاسي وغواړی چي دټاکلی مودی څخه مخکي مو ټویټر اکاونټ ته داخل شي نو تاسي اکاونټ به له منځه ولاړنشي ټولی کړني معلومات او ډیټاوی به مو په خودکاره توګه سمی شي بی له کوم تغیر څخه هغه هم یواځی او یواځی په څو شیبو کي .
- ددی لپاره چي تاسي خپل نوم بدل کړی نو تاسي ضرورت نه لری چي خپل اکاونټ له منځه یوسی د یوزرنایم لپاره تاسي کولای شئ چي دغه کار یا دنوم بدل د Setting له لاری وکړئ چي په دی توګه ستاسي ځوابونه او تعقیب کوونکو (replies and followers) کي کوم بدلون نه راځی .
- که چیرته تاسي په دی نوم او ایمیل ادرس په ټویټر کي کوم بل اکاونټ جوړل غواړی نو لمړی مو په دی اکاونټ کي تغیرات راولی مخکي له دی چي دمنځه ولاړ شي چي وروسته د اکاونټ د منځه تلو څخه ستاسي ډیټاوی اومعلومات دمنځه ولاړ نو نوربه د استعمال وړ نه وي .
- ستاسي اکاونټ به وروسته له څو شیبو دمنځه ولاړشي دټویټر له ویبپاڼي څخه اما د اکاونټ مربوطه ځیني ډیټاوی او اطلاعات به مو تر څو ورځو پوری د ټویټر پر پاڼي د لیدو وړ وي او وروسته به دمنځه ولاړشي .
- مونږ کوم کنټرول نه لرو په سرور یا انجین باندي د ګوګل په څیر ترسو ستاسي محتویات تر کنټرول باندي راولووی وروسته د منځه تللو ځیني .دغه ټول تشریحات مو په باندي شکل کي درته ښودلی دی .






Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

د پورته کړنو وروسته په Deactivate@userman باندې کلیک وکړئ چې ددی اکاونټ د منځه وړلو د تائید لپاره تاسي څخه د بل ځل لپاره پاسورډ ددی اکاونټ غواړی پاسورډ مو داخل کړی د باندې شکل په څیر .




اوس نو یواځینې لاره دادی چې تاسي په Deactivate account باندې کلیک وکړئ ترڅو مو اکاونټ دمنځه ولاړشي او د تائیدولو لپاره چې ستاسي اکاونټ دمنځه ولاړ نو د باندې پیغام سره به مخ شي چې په هغه کې تاسي د اکاونټ د منځه تللو لپاره د ټویټر د ټیم لخوا درکړی شوی دی .



Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com




اوس نو ستاسي اکاونټ د تویټر دمنځه ولاړ او ختم شوی او دمکملی د منځه تلو لپاره یی 30 ورځی په بر کي نیسی ترڅو په مکمله توګه د منځه ولاړشي .



Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com

## {{{{{{{{{د ټویټر خلاصه}}}}}}}}}

کوښښ وکړئ هرهغه شي کوم چې تاسي ټویټ کوی دهغه په محتویاتو باندې په مکمله توګه ځان پوهه کړی چې په آئنده کې دهغه په ټویټ کولو باندې پیښیمانه نشي .

که چېرته ستاسي د ټویټر اکاونټ عمومی ښه لری او هرڅوک کولای شئ چې تاسي ټویټونه او پیغامونه ولولی نو داسی مه ګڼی چې تاسې به خوندي یاست او د ټویټر فضا به مو خوندي وي هیڅکله هم داسی نه دی .

که تاسي کوم ټویټ یا پیغام لیږل غواړی نو کوښښ وکړئ چې هغه ټویټ مو غوره او ښه جالبه وي .

ښه دا وي چې پر دی هم وپوهیږی چې د 2010 کال څخه را په دیخوا د امریکې د کانګرس کتابتون د ټویټر په مرستی او همکاری ستاسي د ټویټر داکاونټ ټول تر سره شوی ټویټونه او پیغامونه د ځانه سره ذخیره کوی او په ساتلو یی کار پیل کړی دی نو کله چې تاسې په عمومی ډول ټویټ کوی او ستاسي اکاونټ هم عمومی ښه لری نو ستاسي ټویټونه او پیغامونه یو په یو له دوی سره ذخیره او ساتل کیږي نو دلته دی چې تاسې هیڅکله هم خوندي نه یاست تاسې ټویټونه او پیغامونه تل د دوی پواسطه څارل او ذخیره کیږي په نوموړی کتابتون کې د امریکې .

پای

Written By: Eng.Sohail (Farooqi) ننګرهار افغانستان

*دانټرنیټ زده کړه په پښتو ساده روانه او تصویري ژبه ؟*

Telephone No: 0786500292 / 0795770440
E-mail:sohail.far92@gmail.com / sohail_far92@yahoo.com